# دين نصيحت دی

له تميم الداري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "دين نصيحت دی" مونږ وويل: د چا لپاره؟ هغه وفرمايل: "د الله لپاره، د هغه د کتاب لپاره، د هغه د رسول لپاره، د مسلمانو چارواکو او د دوی عامو خلکو ته".

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د دين بنسټ په اخلاص او صداقت ولاړ دی، تر دې چې په هغه ډول بشپړ ادا شي لکه څرنګه چې الله تعالى لازم کړی دی، پرته له هر ډول کوتاهۍ، غفلت او فريب څخه. رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل شول: چې دين د چا لپاره نصيحت دی؟ نو هغه وفرمايل: لومړی: د الله تعالى لپاره نصيحت: هغه ته په اخلاص سره عمل کول، له هغه سره شرک نه کول، د هغه په ربوبيت، الوهيت، اسماء او صفاتو امر لوی ګڼل، او پر هغه باندې ايمان راوړلو ته بلنه ورکول دي. دويم: د هغه د کتاب؛ قرآن کريمايمان لرل، د هغه لپاره نصيحت پدې خبره باور ساتل دي چې دا د هغه کلام او وروستی کتاب دی، د ټولو مخکنيو شريعتونو منسوخوونکی دی، مونږ يې درناوی کوو، په حقه يې لولو، په محکم يې عمل کوو، او متشابه ته يې غاړه ږدو، د تحريف کوونکو د تاويل په وړاندې ترې دفاع کوو، له نصيحتونو يې پند اخلو، علوم يې خپروو او بلنه ورته کوو. دريم: د هغه د رسول؛ محمد صلى الله عليه وسلم لپاره نصيحت: پدې خبره ايمان لرل دي چې هغه وروستی پيغمبر دی او په هغه څه کې يې ريښتنی وګڼو چې راتګ يې پرې کړی دی، حکمونه يې ومنو، له هغه څه ډډه وکړو چې مونږ يې ترې منع کړي يو، د الله عبادت يوازې په هغه څه سره وکړو چې هغه پرې راتګ کړی دی، د حق درناوی يې وکړو، احترام يې وکړو، دعوت ته يې بلنه ورکړو، شريعت يې خپور کړو او تورونه ترې لرې کړو. څلورم: د مسلمانو چارواکو لپاره نصيحت : په حق چارو کې د هغوی ملاتړ کول، له هغوی سره د واک په سر شخړه نه کول، د الله تعالى د اطاعت په چوکاټ کې هغوی ته غوږ نيول او اطاعت يې کول. پنځم: د مسلمانانو لپاره نصيحت: له هغوی سره نيکي کول، هغوی ته بلنه ورکول، هغوی ته د ضرر رسولو مخنيوی، له هغوی سره ښېګڼه خوښول، او له هغوی سره د نيکي او تقوا په چارو کې مرسته کول دي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4309

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee